Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

*ISSN: 2584-0975 (Online)*

*Vol.02(02), May 2024, pp, 35-41*

*Journal homepage:* https://sprinpub.com/smjppe

SP SPRIN PUBLISHER

*Research article*

# The Importance of Affixation in Pashto Word Formation

# په پښتو لغوي جوړښت کې د تاړو اوډون او ارزښت

Check for updates

*Mohammad Usman Solizay [1]*, Mohammad Aqa Sherzad [2], Mirwais khaliqyar [3]*

*[1]Pashto language and Literature Department, Education Faculty, Bamyan University, Afghanistan*

*[2]Pashto language and Literature Department, Faculty of Literature, Kabul Education University, Afghanistan*

*[3]Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Nangarhar University, Afghanistan*

*۱محمد عثمان ځولیزی، ۲محمد آقا شېرزاد، ۳میرویس خالقیار

[۱]پښتو ژبې او ادب څانگه، ښووني او روزني پوهنځی، باميان پوهنتون، افغانستان

[۲]پښتو ژبې او ادب څانگه، ژبو او ادبياتو پوهنځی، کابل ښووني او روزنې پوهنتون، افغانستان

[۳]پښتو ژبې او ادب څانگه، ژبو او ادبياتو پوهنځی، ننگرهار پوهنتون، افغانستان

ARTICLE INFO

**Keywords:**

Word formation, Morphology, Affixes, Primary affixes, Secondary affixes

**کلیدي وییونه :** لغوي جوړښت؛ گړپوهنه؛ تاړي؛ پیلني تاړي؛ دویمي تاړي.

**Article History:**

Received: 10-01-2024
Accepted: 18-06-2024
Published: 25-06-2024

**Cite this Article:**

Solizay, M. U., Sherzad, M. A., & khaliqyar, M. (2024). The Importance of Affixation in Pashto Word Formation. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, 2(2), 35–41. https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.359

ABSTRACT

The purpose of this research is to guide and help students and language learners with word structure and meaning awareness in Pashto. Words, learning, understanding, and efficiency have significant relationships and complement each other. Phonological research aids in the awareness of morphological structures and helps us understand the phonological variations that occur in the word formation process. Affixes play a very significant role in the production and articulation of words. The study and understanding of affixation help students in the word formation process in every language. Affixation is important and helpful for literature and linguistic students to distinguish and understand how new words are formed and what they mean. Affixes guide language beginners and speakers to consider words and their meanings structurally. Learning and understanding words help learners develop strong grammar, listening, writing, reading, and speaking skills. The specific purpose of this study is to understand the primary and secondary affixes and their characteristics in the word formation process of Pashto. In the formation of words in the Pashto language, prefixes always function as primary affixes, while suffixes are systematically and orderly enclosed by primary and secondary affixes.

**لنډیز**

د دې څېړنې موخه د ژبې زده کوونکو او ویونکو سره د جوړښت له مخې د لغتونو زده کولو او پر ماناوو یې پوهېدلو کې مرسته کول دي. د لغتونو زده کړه، پوهاوی او وییزه پنځونه یو له بله تړلي او یو د بل بشپړوونکي دي. غږ پوهنیزې څېړنې مو د گړ پوهنیزو جوړښتونو په پراختیا او پرمختگ کې مرسته کوي او له هغو غږیزو عملیو مو خبروي چې په یو وییز چاپېریال کې رامنځته کېږي. د لغتونو په لوست او څېړنه کې تاړي ځانگړې ارزښت لري. د تاړو مطالعه لوستونکو او زده کوونکو سره د لغت په پېژند او رغښتوال څرنگوالي کې مرسته کوي. تاړي د ژبپوهنې د ډگر ځانگوالو او لوستوالو ته لارښوونه او ورسره مرسته کوي، چې د شته لغتونو پرمټ له مانیز او شکلي اړخه نوي لغتونه کله او څنگه رامنځته کېږي. تاړي د ژبې ویونکو او زده کوونکو سره د لغوي جوړښت څخه د خبرېدلو او پوهوېدلو په برخه کې مرسته او لارښوونه کوي. د لغتونو زده کړه او په جوړښت یې پوهېدل د لغتونو، گرامر، لوستلو، لیکلو، اورېدلو او خبرو کولو مهارتونه غښتلي کوي. د څېړنې ځانگړې موخه په پښتو لغوي جوړښتونو کې د پیلنیو، دویمیو او وروستیو تاړو پېژندل او له ځانگړنو یې خبرېدل دي. د پښتو اشتقاقي لغتونو مختاړي تل پیلني خو وروستاړي بیا د ترتیب له مخې پیلني او دویمي تاړي په ځان کې رانغاړي.

**Corresponding Author*:
Email: u.solizay@bu.edu.af (*M. U. Solizay*)
https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i2.359
© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

### سریزه

مورفولوژي او لغت پوهنه د لغتونو د زېږد او په هغې کې د تاړو ځای پرځاینې په هکله معلومات راکوي او له دې مو خبروي څو د لغتونو تحلیل، تجزیه او د ترکیب اړوند مسایلو باندې پوهاوی ترلاسه کړو. کره او ناکره لغتونه یو له بله تفکیک او توپیر کړو. لغتونه او وییزه زده کړه د ژبې په کسب او زده کړه کې رغنده او بنسټیز رول لوبوي. د لغتونو د زده کړې لپاره د لغتونو له جوړښت او ډولونو څخه پوهاوی یې پام وړ ارزښت لري. د ژبې غریزه، لغوي او نحوي زده کړه له ګړ پوهنې او لغتپوهنې پرته ناشونې ده. د لغت پوهنې او مورفولوژي له لوست سره نه یوازې دا چې لوستوال، د ژبې زده کوونکي او د ژبې مینه وال به د لغتونو په مانا پوه شي، بلکې ترڅنګ به یې د لغتونو په کارونه هم هر اړخیز پوهاوی ومومي. د اغېزمنې وییزبرمې د زده کړې لپاره تر ټولو مهم نقش د وییونو تدریس، کارونه او زده کوونکو ته د وییونو ورښوونه ده (Pradita & Sadiq, 2016, pp. 2-6).

تاړي (مختاړي، منځتاړي، وروستاړي)، پیلني تاړي او دویمي تاړي په ژبزده کړه او ژبنی شننه کې خورا مهم دي او د لغوي جوړښت څخه د خبرتیا او پوهاوي په برخه کې د مورنۍ ژبې ویونکي، د دویمې ژبې زده کوونکي او ژبشنونکي سره څه او څومره مرسته کولی شي؟ په لغوي جوړښت کې د تاړو لغوي، شکلي، مانیزو او ګرامري اغېزو څرنګوالی او څومره والی څه او څومره ارزښت لري؟ دا واړه هغه څه دي چې په دې څېړنیزه مقاله کې به ورته په لنډه توګه تم شو. ګړ پوهنه د لغتونو تطبیقي عملیې او په لغوي جوړښت کې د تاړو ځای پرځاینه مطالعه کوي. د ګړپوهنې له لوستلو سره زده کوونکي د تاړو، مختاړو، منځتاړو، وروستاړو، صرفي تاړو، اشتقاقي تاړو د جوړښتونو په هکله معلومات ترلاسه کوي. د مورفیمونو پر مټ د لغتونو ګرامري، مانیز، جنسیتي، شمېریز او نور څرنګوالی څرګندېږي. د تاړو په هکله پوهاوی موږ سره د لغتونو په مانا او پر لغوي جوړښت یې پوهېدا کې مرسته کوي. همدارنګه د تاړو پوهاوی موږ سره د لغتونو او د ژبې په کره زده کړه کې هم پام وړ مرسته کولی شي. وییرغاونه د آرو وییونو له ریښې سره په پیل یا پای کې د ناآرو تاړو د نښلون او یوځایوالي په ترڅ کې د بنې، مانا او ګرامري ډلګی له مخې د نوو لغتونو رامنځته کولو ته وایي، چې په ژبپوهنه کې یې مورفولوژي بولي. په ټولیزه توګه د تاړو ځای پرځاینه، غبرګېدنه، ترکیبېدنه، مرکبېدنه او لنډېدنه د وییرغاونې له مهمو ډولونو څخه ګڼل کېږي.

### د څېړنې تګلاره

دغه څېړنه په ټوله کې کتابتوني، سپړنیزه، پرتلیزه او تشریحي بڼه لري. په څېړنه کې په ځانګړې توګه په پښتو لغوي جوړښت کې د مورفیمونو او تاړو ځای پرځاینه او کارونه تر سپړنې او شننې لاندې نیول شوې ده. توضیحي بېلګې یې د پښتو له اړوندو آثارو څخه راوړل شوي دي. په څېړنه کې کارېدلي توکي څېړنیز آثار او تحلیلي مقالې دي، چې په بربنیایي بڼه له معتبرو ژورنالونو او وېبپاڼو څخه ترلاسه شوي. معمولاً د شننې لپاره هغه مقالې غوره شوي چې په تېرو دیارلسو کلونو له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۲۳ میلادي کلونو پورې موضوع ته اړوند وي.

### د څېړنې ستونزه

د ژبې د پیلنیو ویونکو او زده کوونکو لپاره د لغتونو زده کړه او پرې پوهاوی یوه پېچلې او ستونزمنه پروسه ده. له همدې کبله په ښوونځیو، کورسونو او پوهنتونونو کې د لغتونو او نوو لغتونو پر زده کړې، پراختیا او پرمختیا ټینګار کېږي. څکه نو د تاړو (مختاړو، منځتاړو، وروستاړو)، پیلنیو تاړو او دویمیو تاړو پېژندنه، په لغوي جوړښت کې یې ځای پرځاینه، اوډون او ارزښت یوه مهمه مسئله ده.

### د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: تاړي د ژبې او نوو لغتونو په زده کړه کې څومره مهم دي؟

فرعي پوښتنې: پیلني او دویمي تاړي کوم دي؟

آیا تاړي د لغت په شکلي، ګرامري او محتوایي مانا کې نقش لري؟

### د څېړنې محدودیتونه

په لغوي جوړښت کې د تاړو (مختاړو، منځتاړو او وروستاړو) د ځای پرځاینې، کارونې، شننې او کره مانیزو او ګرامري اغېزو په هکله د بسندو څېړنیزو او تحلیلي موادو، مقالو او آثارو نشتوالی هغه ستونزې وې، چې د دې څېړنې پر وړاندې یې له خنډونو او محدودیتونو څخه د بېلګې په توګه یادولی شو.

### د څېړنې ارزښت

په پښتو ژبه کې تردې وړاندې تر پورتني سرلیک لاندې کومه ځانګړې مقاله، رساله یا کتابګوټی لیکل شوی نه دی. یوازې په خورو ورو پښتو ګرامري آثارو کې تاړي راپېژندل شوي او بېلګې یې راوړل شوې دي. په دې څېړنیزه مقاله کې د پرتلنې په موخه د پورتني سرلیک د وضاحت او سپړنې لپاره په نورو ژبو په ځانګړې توګه انګلیسي کې مقالې او څېړنیز آثار ارزول شوي دي.

### د څېړنې شالید

ژبه د ټولنیزې راکړې ورکړې او ارتباطاتو د ټینګښت ترڅنګ د ګڼو امکاناتو د ایجاد سرچینه ګڼل کېږي. انساني پېژند او هویت دوې داسې پدیدې دي چې له ژبې پرته خپل شتون په ډاګه کولی نه شي. د ژبې د زده کړې لپاره وینا او لیکنی مهارتونه ځانګړی، رغنده او برابر نقش لوبوي. د ژبې د زده کړې لپاره د ژبې ویونکي او زده کوونکي باید په ورځنۍ توګه نوي لغتونه، ګرامري اصول، وییزه ادراینه او ګڼ نور اړوند ځانګړي او پوهنیز معلومات زده کړي. د هرې ژبې په زده کړه کې لغتونه بنسټیز او د ملا د تیر حیثیت لري. لغتونه د ژبزده کړې هسک ته د ختونکې زینې پیلنی پایې ګڼل کېږي. د تاړو پوهاوی نه یوازې د لغتونو په پېژند او ترکیب کې موږ سره مرسته کوي، بلکې د لغتونو په تحلیل او تجزیه کې هم د ژبې له ویونکو او زده کوونکو سره رغنده مرسته کوي.
(Bhatti et al., 2016. pp 514-515).

د مورنۍ او بهرنۍ ژبې د زده کړې لپاره څومره چې غږونه او ګرامر مهم دی، په هماغه کچه د لغتونو پېژندل او زده کړه هم پام وړ ارزښت لري. د لغتونو زده کړه مانادار ارتباط او خبرواترو ته زمینه برابروي. د لغتونو زده کړه او په مانا یې پوهېدل یوه ستونزمنه چاره ده، خو دا هرڅه هغه مهال اسانېږي چې د ژبې زده کوونکي او ویونکي د اړونده ژبې له لغوي جوړښت سره هر اړخیزه بلدتیا ولري. د دې څېړنې یوه موخه د ژبې زده کوونکو او ویونکو سره مرسته کول دي، څو د ژبې لغتونه د هغوی د جوړښت له مخې زده او پر ماناوو یې ځانونه پوه کړي.
(Gubair & Ibrahim, 2019. pp. 2203-2205)

د لغتونو زده کړه، پرې پوهېدل او وییزه پنځونه په ټوله کې یو له بل سره تړلې دي. په هره کچه چې د ژبې زده کوونکي او ویونکي له لغوي اصولو باخبره وي، په هماغه کچه په کارونه کې هم له څېرنې او دقت څخه کار اخلي. د وییرغاونې له اصولو خبرتیا او پوهاوی د لغتونو په کارونې او مانا کې ځانګړی ارزښت لري. په هره کچه چې د ژبې ویونکي او زده کوونکي له دغو اصولو څخه اګاه وي په هماغه کچه د لغتونو کارونه، استعمال او مانا ورته اسانه وي. د لغتونو پر جوړښت، کارونې او مانا پوهېدنې د زده کوونکو، لیکوالانو، تابیا نیوونکو، شاعرانو، داستان لیکوونکو او د ژبې تدریسوونکو لپاره ځانګړی ارزښت لري.
(Gubair & Ibrahim, 2019. pp. 2203-2205).

د لغتونو په لوست او څېړنه کې تاړي ځانګړی ارزښت لري. د تاړو مطالعه لوستوال او زده کوونکي سره د لغت په پېژند او رغښتوال څرنګوالي کې مرسته کوي. تاړي د ژبپوهنې د ډګر ځانګوالو او لوستوالو ته لاربښونه او ورسره مرسته کوي، چې د شته لغتونو پرمټ له مانيز او شکلي اړخه نوي لغتونه کله او څنګه رامنځته کېږي؟ مورفولوژي د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د لغتونو ژور لغوي او مانيز بدلون تر بحث او څېړنې لاندې نيسي. د مورفيمونو او تاړو په هکله پوهاوی زده کوونکو سره د معياري او پوهنيزې ژبې په زده کړه کې مرسته کوي. د تاړو پرمټ د نوو پنځېدونکو لغتونو په استعمال او مانا باندې پوهېدلی شو.

دا چې پښتو ګړ غږ پوهيزه ژبه ده، نو شوني ده چې هر غږ پکې په ورته مهال کې د يو يواځيني غږ ترڅنګ يو مورفيم هم وي، څکه چې د يو آر ويي له ريښې سره د يو غږ زيادښت يا څنې کمول د داسې نوي لغت د رامنځته کېدو لامل کېږي چې نوې بڼه او بله مانا لري او کله کله يې ګرامري ډلګی هم بدلون مومي. په دې مانا د لغوي ريښې په پيلنې يا وروستی برخه کې د يو غږ زياتوالی د ياد لغت ادابنه په مانا کې بدلون رامنځته کوي. د ژبې ټول لغتونه له لغوي ريښو، وييزو تنو او تاړو څخه رامنځته شوي دي. دغه تاړي د ژبې له زده کوونکو، ويونکو او کاروونکو سره د داسې لغتونو په ايجاد کې مرسته کوي چې د شکل، مانا او ګرامري کټګورۍ له مخې له زړو او مخنيو لغتونو سره جوت توپير ولري. دا هرڅه د دې لامل کېږي څو زده کوونکي نوي لغتونه زده او خپلې وييزېرمې ته پراختيا ورکړي (Cook, 2016., pp 34-41).

په تاړو او ګړونو پوهېدل به د ژبې کوچنيو ويونکو او زده کوونکو سره مرسته وکړي، څو لغوي بڼې په سمه توګه درک کړي، د لغوي غځونې لپاره کوم تاړي (مختاړي او وروستاړي) کله او څنګه غوره کړي، د لغت له ريښې څخه دمخه يا څنې وروسته کوم تاړي وکاروي او په پای کې د خپلو وييونو تشه څنګه ډکه او لغتونه زده کړ (Angrayni, 2019. p. 7).

تاړي له دې کبله هم مهم دي چې په نحوي او لغوي جوړښت کې د مهال، شمېر، اړخ، جنس، ګرامري ډلګی، لغوي ډلګی او دېته ورته ګڼې نورې ځانګړنې په ګوته کوي. ګړپوهنيز بدلون کومه تخنيکي او فرضي عمليه نه ده، بلکې دا د ژبې د کاروونکو له ژبنې چلند څخه سرچينه مومي. لغوي بدلون د لغوي زېږد او ژبنې بدلون لامل کېږي. په لغوي جوړښت کې د يو غږ زيادښت يا څنې کمښت د لغوي او مورفولوژيکي او په ټوله کې د ژبنې بدلون لامل کېږي.
(Hamans, 2017. pp. 1-3).

د دې څېړنې يوه موخه د لغتونو زده کړه او له لغوي جوړښت څخه د ژبې د ويونکو او زده کوونکو خبرول او پوهول دي. د لغتونو زده کړه او په جوړښت يې پوهېدل د لغتونو، ګرامر، لوستلو، ليکلو، اورېدلو او خبرو کولو مهارتونه غښتلي کوي. له دغو مهارتونو څخه لغوي مهارت د ژبزده کړې په برخه کې ځانګړی ارزښت لري (Zarei et al., 2014, pp. 1-2).

### د مورفولوژي پېژندنه

مورفولوژي د ژبپوهنې هغه څانګه ده، چې د لغتونو جوړښت، زده کړه، وييز رغښت او ډولونه يې څېړي. په نورو ټکو مورفولوژي د ژبپوهنې د يوې ځانګې په توګه د لغتونو ماناوې، ګرامري اصول او داخلي جوړښت څخه بحث کوي. (Silviana, 2020, p. 5).

مورفولوژي په لغت کې د شکل پېژندنې د علم مانا لري چې له دوو برخو (Morph-) شکل، بڼه او (-logy) پوهه څخه رامنځته شوې ده؛ په اصطلاح کې مورفولوژي د ګرامر هغه برخه ده چې د مورفيمونو او لغتونو جوړښت، اوړون، اشتقاق او ډولونه يې څېړي (چمتو،۱۳۹۸، ۹۴ م).

صرف د ګرامر هغه برخه ده چې په هغې کې د يوې ژبې ټاکلي مورفيمونه د هغوی جوړښت، ترکيب، ګردان او ډولونه تر څېړنې او بحث لاندې نيول کېږي. (خوېشکی، ۱۳۹۷، ۸۷ م).

### مورفيم پېژندنه

مورفيم د ژبې تر ټولو کوچنی لفظي واحد دی، چې ګرامري او لغوي مانا لري او په نورو کوچنيو اجزاوو د وېشلو وړ نه دی (Silviana, 2020, p. 6).
همدارنګه ښاغلی چمتو د خپل نامتو اثر تشريحي ژبپوهنه په ۹۴ مخ کې ګړ يا مورفيم داسې راپېژندلی دی: «تر ټولو کوچنی مورفولوژيکي يوون چې څېنې وختونه جلا مانا ښندي او که وشنل شي خپله مانا له لاسه ورکوي او اوازونه ترې لاس ته راځي).

مورفيم هغه کوچنی مانيز واحد دی چې که تجزيه شي خپله مانا له لاسه ورکوي او د هغه له تجزيه کېدو څخه بې مانا اوازونه لاس ته راځي، يا مورفيم يو نه تجزيه کېدونکی مانا لرونکی واحد دی. (خوېشکی، ۱۳۹۷، ۸۷ م).

ګړ يا مورفيم د ژبې تر ټولو کوچنی مانيز توک دی چې د دوو يا څو اوازونو له يوځای کېدو څخه رغښت مومي او له شنل کېدو څخه يې ساده اوازونه يا بې مانا توکونه لاس ته راځي. (زيار،۱۳۸۴، ۸۴ م).

### د مورفيم ډولونه

د مورفيمونو او تاړو د وېش په برخه کې کورني ژبپوهان، ګرامر پوهان او د آثارو څېړونکي سره يوه خوله نه دي؛ دا په داسې حال کې ده چې په بهرنيو ژبپوهنيزو آثارو کې د همغږۍ او نظري يووالي ترڅنګ بيا هم ځای ځای دغه شان يووالی نه تر سترګو کېږي. قسيم چمتو په ټوله کې مورفيمونه په دوه ډوله (خپلواک او تړلي) باندې وېشلي دي. د نوموړي په اند خپلواک مورفيمونه هغه دي چې ځانته مستقله مانا لري او په ژبنې بهير کې هم په خپلواکه توګه مانا ښندي. همدارنګه تړلي مورفيمونه هغه ګړونه دي چې مستقله مانا نه لري، بلکې مانا يې د ژبنيو توکونو په لړ کې د خپلواکو ګاونډيو مورفيمونو او وييونو په مرسته څرګندېږي. (چمتو،۱۳۹۸، ۹۴ م).

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار په خپل نامتو اثر پښتو پښويه کې ګړونه په لومړي سر کې پر آرو (خپلواکو) او ناآرو (ناخپلواکو) وېشلي دي: نوموړی په ادامه کې وايي آر يا خپلواک ګړونه هغه دي چې د وينا او خبرو پر مهال خپلواکه او مستقله مانا ولري او د خپلواک لغت په توګه راڅرګندېږي. بل لور ته ناآر يا ناخپلواک ګړونه هغو مورفيمونو ته ويل کېږي چې د وينا او خبرو پر مهال د يو لغت توک يا جز ګڼل کېږي. (زيار، ۱۳۸۴، ۸۳ – ۸۴ م).

په څېنو نورو آثارو کې خپلواک مورفيمونه بيا په خپل وار سره په دوه سترو برخو (لغوي مورفيمونه او محتوايي مورفيمونه) وېشل شوي دي. لغوي مورفيمونه هغو ګړونو ته ويل کېږي چې په لغت کې د خپلواکو مورفيمونو اساس جوړوي او د لغت له ريښې څخه دمخه يا وروسته نور تاړي ورپورې نښلول کېدی شي. په دې مانا چې لغوي مورفيمونه په خپلواکه توګه د لغت ريښه جوړوي او د نورو تاړو له يوځای کېدو سره نوي اشکال او نوې ماناوې زېږوي. له همدې کبله دغه

مورفیمونه نومونه، ستاینومونه، فعلونه او قیدونه په ځان کې رانغاړي. بل لورته محتوایي مورفیمونه هغو ګړونو ته ویل کېږي چې په خپلواکه توګه کارېدای نه شي، خو په نورو خپلواکو تاړو پورې نښلېدای شي تر څو مانا او ګرامري ډلګۍ بې بدله کړي. د مورفیمونو په دې ډلګۍ کې ادات، سریني، پسیني او ضمیرونه شاملېږي (Silviana, 2020, p. 19).

بل لور ته تړلي مورفیمونه هم بیا په خپل وار سره په دوه سترو برخو (صرفي مورفیمونه او اشتقاقي مورفیمونه) وېشل شوي دي. وړاندې مو وویل تړلي یا ناخپلواک ګړونه هغو مورفیمونو ته ویل کېږي چې مستقله او خپلواکه مانا نه لري، بلکې له آرو مورفیمونو سره تر یو ځای کېدو وروسته د یادو مورفیمونو مانا، ګرامري ډلګۍ او شکل ته بدلون ورکوي. تړلي مورفیمونه یوازې په لغوي مورفیمونو (نوم، ستاینوم، فعل، قید) پورې نښلول کېدای شي، نه په محتوایي او ګرامري لغتونو پورې.

اشتقاقي مورفیمونه هغو مورفیمونو ته ویل کېږي چې له نورو خپلواکو مورفیمونو سره د یوځای کېدو په ترڅ کې بې د نوې ګرامري ډلګۍ لرونکي نوي لغتونه او مستقل مورفیمونه رامنځته کېږي. کله کله د دغو مورفیمونو د یوځای والي له کبله د لغت ګرامري ډلګۍ بدلون نه کوي، دغه مورفیمونه هم له خپلواکو لغتونو سره د مختاړو او وروستاړو په توګه یوځای کېږي. لکه: ناممکن (نا) په دغه لغت کې مختاړی او (ممکن) آر لغت دی چې د (نا) مختاړي له نښلون سره یې مثبته مانا په منفي بدله شوې ده. په څېرکتیا، په دې لغت کې (په) سرینه یعنې ناخپلواک مورفیم دی، (څېرک) د لغت ریښه او (تیا) وروستاړی دی چې له (څېرک) سره په یوځای کېدو یې د یاد لغت مانا او ګرامري ډلګۍ له اسمي څخه ستاینومیزې ته اړولې ده.

د تړلو مورفیمونو بله ډلګۍ صرفي مورفیمونه دي چې په پښتو کې د جنسیت، مهال او ملکیت ښکارندويي کوي. په دې مانا چې له آرو مورفیمونو سره د دغو ګړونو د یو ځای کېدو په ترڅ کې یوازې د لغت ګرامري ډلګۍ بدلون کوي او مانا ډېری وخت پر خپل حال پاتې کېږي. لکه: سړی – سړي، منګی - منګي په دغو بېلګو کې وینو چې غبرګږ (ی) په یو ساده خپلواک (ي) غږ اوښتون موندلی، چې په ترڅ کې یې یوه مفرده کلمه په جمعه بدله شوې، خو ګرامري ډلګۍ یې پر خپل حال پاتې ده. د پورتنیو معلوماتو له مخې د مورفیمونو د وېش او ډولونو په برخه کې که د داخلي او بهرنیو لیکوالانو پښتو او د نورو ژبو آثار وګورو، نو د لفظونو په ادلون بدلون سره په یوه نه یو ډول یو له بله سره ورته او نږدېوالی لري.

**د تاړو ډولونه**

د تاړو کره او سمه کارونه له زده کوونکو او د له ژبې مینه والو سره مرسته کوي، څو د تاړو له وییز جوړښت او ډولونو څخه یې پوهاوی ترلاسه او د نحوي جوړښت په ټاکلو ځایونو کې یې سم وکاروي. تاړي په توله کې هغه مورفیمونه دي چې کومه خپلواکه مانا نه لري او د آرو مانا لرونکو لغتونو له ریښو سره دمخه یا هم وروسته داسې یوځای کېږي، چې د آرې مانا، شکل او ګرامري ډلګۍ ته بدلون ورکوي (Kristel, 2020, p. 1).

ښاغلی استاد محمد قسیم چمتو د خپل اثر تشرېحي ژبپوهنه په ۹۷ مخ کې تاړي (Affixes) داسې راپېژني: «هغه مورفیمونه او ګړونه دي چې مانا یې له نورو خپلواکو مورفیمونو او وییونو سره د یوځایوالي او پیوستون له لارې څرګندېږي.» (چمتو،۱۳۹۸، ۹۷ م). د نورو ژبو په څېر په پښتو ژبه کې هم تاړي په دریوو ډولونو وېشل شوي چې هر یو به یې له بېلګو سره په لنډه توګه تشریح کړو.

**مختاړي**

هغه تاړي دي چې د آرو او خپلواکو لغتونو له ریښو سره په پیلنۍ یا مخنۍ برخه کې یوځای کېږي او د کلمې مانا ته بدلون ورکوي. په نورو ټکو هغه تاړي چې د اړوند مورفیم یا ساده وییې په سر پورې نښلي او له یوې نوې جولې او مانا سره یو نوی مشتق وییې رامنځته کوي. لکه: ناروغ، بې پایلې، نشته، مه کوه، غیر اخلاقي، بیاکتنه، همغاړی، کمبخت، بدبخت، یو وزری، نیم ځانه او نور... په دغو بېلګو کې (نا، بې، ن، مه، غیر، بیا، هم، کم، بد، یو، نیم) مختاړي له مستقلو لغتونو سره یوځای شوي او د نوو ماناوو لرونکي وییونه یې پنځولي دي. (خوښکی، ۱۳۹۷، ۱۰۷ – ۱۱۱ م).

په ټوله کې مختاړي په دریو ډوله (شمېریز، نفي کوونکي او نسبتي) وېشل شوي دي:

**شمېریز مختاړي:** د تاړو هغې ډلګۍ ته ویل کېږي چې د یوې وییزې ریښې په پیل کې د اړوند څیز، توک یا پدیدې د شمېر ښودنې لپاره نښلول کېږي. لکه: مونوګراف، مونولوګ، مونوسیلابیک، مونوتېزم، بایلینګول، بایسیکل، پنټاګون، پنټامېټر او نور چې په دغو لغتونو کې مونو، بای او پنټا په ترتیب سره عددي یا شمېریز مختاړي دي چې د لغت له ریښې سره په پیلیزه برخه کې ورزیات شوي دي.

په دویمه کټګورۍ کې نفي کوونکي مختاړي راځي:

**نفي کوونکي مختاړي:** دا د ګړونو هغه ډلګۍ ده چې د لغوي ریښې په پیلیزه برخه کې ور زیاتېږي او په ترڅ کې یې د نوې مانا لرونکې جلا کلمه رامنځته کېږي. لکه: غیرقانوني، بې قاعدې، ناروغ، نشته او نور چې غیر، بې، نا او ن په ترتیب سره نفي کوونکي مختاړي دي او د کلیمو له ریښې سره په پیلیزه برخه کې نښلول شوي دي.

**نسبتي مختاړي:** د تاړو هغه ډول دی چې د لغت له ریښې سره په پیلیزه برخه کې نښلول کېږي او یوه څې، چارې، شخص یا مهال ته د یوې پدیدې نسبت څرګندوي. لکه: بیاځلي، بیاکتنه، بیاراتګ، مخاړی، مخماتي، شاتیتي، شاکړوبي، سرتیتي، سرغاړی، سرکوزی او نور چې بیا، مخ، شا او سر پکې په ترتیب سره د مختاړو په توګه د کلمو له ریښو سره نښلول شوې دي(Angrayni, 2019. p. 23).

**وروستاړي**

د تاړو هغه ډلګۍ ده چې د آر وییونو د ریښې له پای سره نښلول کېږي او په پایله کې یې د نوې مانا لرونکي لغتونه چې ګرامري ډلګۍ یې هم سره توپیر لري رامنځته کېږي. یا وروستاړي هغه نا آر مورفیمونه دي چې د وییزې تنې په پای پورې نښلي او له نښلېدا سره یې د لغت آره مانا او ګرامري کټګوري بدلون مومي. په نورو ټکو هغه تاړي چې د اړوند مورفیم یا ساده وییې په پای پورې نښلي او د نورو تاړو په شان یو نوی مشتق وییې منځته راوړي، چې د جولې او مانا له مخې به له بنسټیز مورفیم یا ساده وییې سره توپیر لري.(چمتو، ۱۳۹۷، ۹۴ م).

لکه: لیکه، لیکي، لیکې، لیکو، لیکم، لیکنه، لیکنې، لیکنو، لیکونه، لیکوال، لیکواله، لیکوالي، لیکوالان، لیکوالانې، لیکوالانو او نور... په دغو بېلګو کې (لیک) د کلیمې ریښه او نور نا آر مورفیمونه په ترتیب سره(هـ، ي، ې، و، م، هـ، ې، و، نه، وال، واله، وال، ي، وال، ان، ې، وال، انو) ټول پیلني او دویمي وروستاړي ګڼل کېږي.(شهزاد، ۱۳۹۷، ۵۶ م).

وروستاړي بيا په خپل وار سره په پنځو مختلفو ډلګيو (نوموال، شخصي، کړوال، ستاينوميزوال او قيدي وروستاړو) وېشل شوي چې هره ډلګۍ به يې په ترتيب سره دلته په لنډه توګه تشريح کړو:

**نوموال وروستاړي:** د تاړو هغه ډلګۍ ده چې د کلمې(لغت) له ريښې سره په پای برخه کې نښلول کېږي او د ګرامر له مخې يې په نوم يا اسمي ډلګۍ باندې بدلوي. لکه ليکانی، ځرګندوی، ګټيالی، سوبمن او نور... په دغو لغتونو کې نی، دوی، لی او من په ترتيب سره نوم جوړوونکي وروستاړي دي، له همدې کبله يې د نوموالو وروستاړو په نامه يادوي.

**شخصي وروستاړي:** د تاړو هغې ډلګې ته ويل کېږي چې د کلمې له ريښې سره په پای برخه کې نښلول کېږي او په ترڅ کې يې شخصي نومونه رامنځته کېږي. لکه ښوونکی، روزونکی، ډولچي، توپچي، ختيګر، کوډګر او نور... په دغو لغتونو کې «کی، چي او ګر» په ترتيب سره د شخص ځرګندويه وروستاړي دي.

**کړوال وروستاړي:** د تاړو هغه ډول دی چې د کلمې په پای برخه پورې نښلي او په ترڅ کې يې له نومونو يا ستاينومونو څخه کړوال وييونه رامنځته کېږي. لکه ليکل، لوستل، ليدل، ليکنه، لوستنه، ليدنه، ليکلی، لوستلی، ليدلی او نور په دغو لغتونو کې «ل، نه او لی » په ترتيب سره هغه تاړي دي چې د آرې کلمې له ريښې سره نښلول شوي او په ترڅ کې يې کړوال وييونه رامنځته شوي دي.

**ستاينوميزوال وروستاړي:** د تاړو هغه ډول دی چې د کلمې له ريښې سره په پای برخه کې نښلول کېږي او اسمي ډلګۍ څخه يې په ستاينوميزه ډلګۍ بدلوي. لکه تاريخي، کلتوري، ژبني، ماشومتوب، ژمنتوب، هلکوالی، بوډاوالی، کونډوالی او نور چې په دغو لغتونو کې « ي، توب او والی» په ترتيب سره ستاينوميزوال وروستاړي دي.

**قيدي وروستاړي:** د تاړو هغه ډول دی چې د کلمو له ريښې سره په پای برخه کې نښلول کېږي او ګرامري ډلګۍ يې په قيد پورې محدودوي. لکه مهالنی، کورنی، پرونی، ژمني، اونيز، چټکتيا، سستي او نور... په دغو لغتونو کې « نی، يز، ي او تيا » په ترتيب سره کړولوال وروستاړي دي چې د پورتنيو لغتونو په ريښې پورې نښلول شوي دي (Angrayni, 2019. pp. 10-14).

**منځتاړي**

هغه تاړي چې د  يو خپلواک مورفيم يا ساده وييي په منځ کې ځای نيسي او له نوې جولې سره يو نوی صرفي ويی يا هم له نوې جولې او مانا سره نوی مشتق ويی منځته راوړي. (چمتو، ۱۳۹۸، ۹۷ – ۹۸ م).

لکه: خواره، کاره، کاڼه، پښتانه، شپانه، راڼه او نور... د دغو لغتونو آره بڼه خوړ، کوړ، کوڼ، پښتون، شپون او روڼ دي چې د ټولو لغتونو د آرې بڼې په منځنۍ برخه کې (الف) د منځتاړي په توګه ورننوتی او په پای کې يې زورکی (هـ) ور زيات شوی دی. د يادونې وړ ده د مخامخ او بېلابېل لغتونه هم د منځتاړي له ډولونو څخه ګڼل کېږي چې د دواړو په منځ کې د الف غږ د مورفيم په توګه ور زيات شوی دی.

**ډلګۍ بدلوونکي او ډلګۍ نه بدلوونکي تاړي**

په پښتو کې مختاړي د هغو تاړو له ډلې څخه دي چې له لغوي ريښو سره د يوځای کېدو سره سره بيا هم د اړوندو لغتونو ګرامري ډلګۍ ته بدلون نه ورکوي، بلکې يوازې د شکلي او مانيز بدلون لامل کېږي. د بېلګې په توګه ناروغ، بې فکره، مه خوره، نشته او نور... په ترتيب سره لومړني دوه لغتونه په نوموالـه ډلګۍ او وروستي دوه لغتونه په کړوالـه ډلګۍ راځي .(خوليزی، ۱۳۹۹، ۱۴۹ م).

بل لور ته وروستاړي هغه تاړي دي چې د آرو لغتونو په پای کې راځي او د لغتونو د شکلي او مانيز بدلون ترڅنګ يې په ګرامري ډلګۍ کې هم بدلون رامنځته کوي. د بېلګې په توګه ليکوال، ناروغي، بوختياوې او نور... په ترتيب سره لومړنی لغت په نوموالـه، دويم لغت په ستاينوميزواله او درېيم لغت په کړوالـه ډلګۍ کې راځي. البته د يادونې وړ ده چې د تاړو په پورتنيو ډلګيو کې استثناوې هم موجودې دي، په دې مانا چې د کلمو له ريښې سره د يو شمېر وروستاړو له نښلون سره سره د اړوند لغت ګرامري ډلګۍ کې بدلون نه رامنځته کېږي. ډېری دغه تاړي د ډېر ګړو لپاره کاربدونکي وروستاړي په ځان کې رانغاړي (Kristel, 2020, p. 5).

**په لغتونو کې د تاړو ځای پرځاينه**

د لغت له خپلواکې ريښې سره د مختاړي يا وروستاړي د يوځای کولو پروسې ته په وييز جوړښت کې د تاړو ځای پرځاينه ويل کېږي، چې په ترڅ کې يې د لغت په شکل، مانا او ګرامري ډلګۍ کې بدلون رامنځته کېږي. پر وييزې ريښې د تاړو زياتونې عمليې ته د تاړو ځای پرځاينه (Affixation) ويل کېږي. دا عمليه د نړۍ د ژبو ترمنځ په پراخه کچه د پلي کېدو وړ ده، چې په ترڅ کې يې نوې مانا لرونکي لغتونه رامنځته کېږي. د تاړو ځای پرځاينې عمليه کې مختاړي او وروستاړي دوې مهمې او مخکښې پروسې ګڼل کېږي، چې په ترڅ کې وييزه زېږونه صورت مومي. د تاړو په نښلونې سره يو خپلواک مورفيم يا ساده لغت د نوې جولې ترڅنګ نوې مانا هم پيدا کوي او په ترڅ کې يې يو نوی اشتقاقي لغت رامنځته کېږي. د دې ترڅنګ ګڼې نورې مورفولوژيکي عمليې هم شته چې په ترڅ کې يې له آرو لغتونو څخه د شکل او مانا په اوښتون سره نوي لغتونه رامنځته کېږي؛ د هغې ډلې له منځتاړو څخه د بېلګې په توګه يادونه کولی شو (Kristel, 2020, p.1).

**پيلني، دويمي او وروستي تاړي**

غږ پوهنيزې څېړنې د ګړ پوهنيزو جوړښتونو په پراختيا او پرمختګ کې مرسته کوي او له هغو غږيزو عمليو مو خبروي چې په يو وييز چاپېريال کې رامنځته کېږي. هغه څه چې د ګړ پوهنې او غږ پوهنې ترمنځ ګډ ټکي را په ګوته کوي په وييز جوړښت کې پيلني او دويمي تاړي دي. په انګليسي ژبه کې پيلني تاړي اصلاً رومي-لاتيني ريښه لري، خو دويمي تاړي بيا مورنې او جرمنيکه مخينه لري. پيلني او دويمي تاړي په هره ژبه کې يوه ژوندۍ عمليه ګڼل کېږي، چې په ژبو کې د وييز جوړښت اتمولوژيکي ساختار پورې تړاو مومي. د يادونې وړ ده چې په پيلنيو تاړو کې خج له يوې څپې څخه بلې څپې ته لېږدېږي، خو په دويميو تاړو کې خج په خپل حال پاتې کېږي. دا په هغه صورت کې ده چې پيلني او دويمي تاړي په دوه بېلو لغتونو کې واقع شوي وي؛ خو که چېرته دواړه په يوه وييز جوړښت کې واقع شوي وي نو خج هم پکې له يوې څپې څخه بلې ته نه لېږدول کېږي. معمولاً په وييز جوړښت کې پيلني تاړی د لغت ريښې او تنې ته له دويمي تاړي څخه نږدې واقع کېږي. په مورفولوژيکي آثارو کې ژبپوهان معمولاً پيلني تاړي په ( + ) او دويمي تاړي په (#) سره ښيي. ( Aronoff & Fudeman, 2011. pp. 82-86).

**پيلني تاړي**

په پښتو لغوي جوړښتونو کې له لغوي ريښې څخه دمخه راغلي مختاړي معمولاً د پيلنيو تاړو په ډله کې راځي، خو له وييزې ريښې څخه وروسته راغلي وروستاړي په ترتيب سره پيلني او دويمي تاړي په ځان کې رانغاړي. په دې مانا که له وييزې ريښې وروسته دوه يا څو وروستاړي راغلي وي، لومړی تاړی يې پيلنی دويم يې دويمی او بل يا نور يې وروستي ګڼل کېږي. په پښتو وييز جوړښت کې له ريښې

ځخه له مخه د مختاړې په برخه کې څو تاړي په پرله پسې توګه نه شي راتلی، له همدې کبله یوازې هماغه یو تاړی د پیلني تاړي په توګه پېژندل کېږي. د یادونې وړ ده چې په انګلېسي او ځینو نورو ورته ژبو کې چې له وییزې ریښې ځخه دمخه دوه، درې یا څو تاړي د مختاړي په توګه مني شایي په هماغه وییز جوړښت کې لومړنی مختاړی د پیلني او دویمی مختاړی د دویمي تاړي په توګه راغلی وي. دا چې په پښتو کې له وییزې ریښې دمخه د مختاړي په برخه کې یوازې یو تاړی راتلی شي، نو همدغه یو تاړی پیلنی او تر ریښې وروسته وروستاړي بیا په ترتیب سره په پیلني، دویمي او وروستي تاړو باندې وېشلی شو.

په نورو ټکو یې که لنډه یادونه وکړو پیلنی تاړي له هغو تاړو ځخه عبارت دي چې په انفرادي توګه د لغت په ریښې یا تنې پورې نښلي او د لغت په آره بنه کې شکلي، محتوایي او ګرامري بدلون رامنځته کوي. ټول پیلني تاړي د لغت ریښې یا تنې ته نږدې واقع کېږي. لکه: افغان – افغانی، استاد – استادي، ښکلی – ښکلې... یوځه چې دلته یې د یادونې وړ بولو هغه بې قاعدې تاړي دي چې د بې قاعدې نومونو په جمعه کولو کې کارول کېږي لکه مور – میندې، خور – خویندې، ترور – تریندې، نږور – نږیندې، ورور – وروڼه، پلار – پلرونه او نور... د یادونې وړ ده چې دغه تاړي هم د پیلنیو تاړو له ډلې ځخه ګڼل کېږي.

که په وییز چاپېریال کې له داسې لغتونو سره مخ شو چې په جوړښت کې مختاړي او وروستاړي دواړه ولري؛ په دې مانا چې د لغت له ریښې دمخه هم پیلنی تاړی ولري او له ریښې وروسته هم پیلنی تاړی او همدارنګه دویمي او وروستي تاړي ولري نو هر یو یې باید په خپل ټاکلي ځای ځایګي کې داسې وشنو لکه په لاندې بېلګو کې چې په دواړو برخو کې تاړي شنل شوي دي. لکه: ناروغتیاوې، بې لیکوالانو، غیرحاضریانې او نور...

د دغو لغتونو له ډلې ځخه لومړی (ناروغتیاوې) لغت داسې شنلی شو: په دغه لغت کې (روغ) د لغت ریښه او اساس جوړوي، (نا) یکې مختاړی دی چې د پیلني تاړي په توګه راغلی دی. همدارنګه (تیاوې) دوه غبرګ داسې وروستاړي دي چې په ترتیب سره (تیا) یکې پیلنی او (وې) دویمی وروستاړی ګڼل کېږي. دویم لغت (بې لیکوالانو) داسې شنلی شو: په دې لغت کې (لیک) ریښه او اساس دی، (بې) یکې مختاړی دی چې په یوازې توګه راغلی او پیلنی تاړی ګڼل کېږي. همدارنګه (والانو) درې پرله پسې وروستاړي دي چې په (وال) پیلني، (ان) دویمي او (و) وروستي وروستاړي یې شنلی شو. درېیمه کلمه داسې شنلی شو: دغه لغت (غیرحاضریانې) چې (حاضر) یکې د لغت اساس (غیر) یکې مختاړی چې د پیلني تاړي په توګه راغلی او (یانې) یکې درې پرله پسې وروستاړي دي چې (ي) یکې پیلنی تاړی، (ان) یکې دویمی او (ې) یکې وروستی یا د درېیمي تاړي په توګه راغلی دی.

یوځه یادونه چې دلته اړینه ده، هغه پښتو لغوي جوړښتونه چې په خپل جوړښت کې یو مختاړی او دوه یا څو وروستاړي ولري؛ د وروستاړو په برخه کې دویمی او درېیمی تاړی تر هغو پورې په لغت کې ځای پرځای کولی نه شو، ترڅو مو پیلنی تاړی تر هغه وړاندې په وییز جوړښت کې ځای پرځای کړی نه وي. که په داسې چاره لاس پورې کړو، له بې مانا او غیر ګرامري لغتونو پرته به مو بله کومه لاسته راوړنه نه وي کړې.

## دویمي تاړي

دویمي تاړي هغو تاړو ته ویل کېږي چې په لغوي جوړښت کې په پیلني تاړي پسې لګول کېږي او د آر لغت د شکلي، محتوایي او ګرامري مانا د بدلون لامل کېږي. دویمي تاړي ډېری اشتقاقي بڼه لري، په دې مانا چې د کلمو له ریښو سره د دغو تاړو نښلول د داسې نوې کلمې د ایجاد لامل کېږي چې د مانا، اداینې او ګرامري ډلګۍ له مخې له آرې کلمې سره جوت توپیر لري. دویمي تاړي د پیلنیو او لومړنیو تاړو په پرتله له لغوي ریښې او تنې ځخه نسبتاً لرې واقع کېږي. په دې مانا ټول پیلني مختاړي له وییزې ریښې مخکې او ټول پیلني وروستاړي تر وییزې ریښې وروسته واقع کېږي. درېیمي تاړي ډېری قاعدوي صرفي تاړي په ځان کې رانغاړي چې د کلمې په ریښې پورې نښلي او ډېری یوګړي نومونه په ډېرګړو بدلوي. لکه: لیک – لیکوال – لیکوالان – لیکوالانې، ملګری – ملګرتیا – ملګرتیاوې، دوست – دوستان – دوستانه او نور...

پورتنی بېلګې په دې توګه شنلی شو چې په لومړي لغت (لیکوالانې) کې (لیک) د لغت ریښه او اساس دی، (والانې) په ترتیب سره درې پرله پسې راغلي وروستاړي دي چې (وال) یکې پیلنی تاړی (ان) یکې دویمي تاړی او (ې) یکې وروستی تاړی ګڼل کېږي. همدارنګه په دویم لغت (ملګرتیاوې) کې (ملګر) د کلمې ریښه او (تیاوې) په ترتیب سره دوه غبرګ وروستاړي دي چې (تیا) لومړنی یا پیلنی تاړی او (وې) دویمی تاړی ګڼل کېږي. درېیمه بېلګه (دوستانه) داسې شنلی شو چې په دغه کلیمه کې (دوست) د کلمې ریښه او (انه) په ترتیب سره دوه غبرګ تاړي راغلي چې (ان) یې پیلنی تاړی او (ه) یې دویمی تاړی ګڼل کېږي. د یادونې وړ ده چې د جمعې قاعدوي تاړي په مرکبو کلمو یا د هغوی په جمعه کولو کې نه تر سترګو کېږي، ځکه د دویمیو تاړو په برخه کې کله چې مرکب ویی جوړ شو نو د درېمیو تاړو په برخه کې یې رغنده توکي بیاځلي نه صرفي کېږي (Gordon, 1985, p74).

که کوچنیانو او د ژبې زده کوونکو ته د خبرو کولو او ژبزده کړې پر مهال د دغو اصولو لاربښوونه وشي، نو شایي د مفردو لغتونو په جمعه کولو او د ساده لغتونو په مرکبولو کې به له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان وي او په پایله کې به ناسمې جمعې او مرکبې بڼې رامنځته کړي. په پښتو کې یو ګړي لغتونه په قاعدوي او بې قاعدې ډول په ډېر ګړو بدلېږي او همدارنګه مرکب لغتونه د مفرد-مفرد او مفرد-جمعې لغتونو ځخه رامنځته کېږي.

د فرانسس کتمبا په اند ټول تاړي په دوه ډلګیو (ختنا او غیرختنا) وېشل شوي: ختنا تاړي د ګړونو هغه ډلګۍ ده چې د لغتونو له ریښې سره د نښلون په صورت کې د یادو لغتونو په ګرامري ډلګۍ کې بدلون نه رامنځته کوي. لکه: استاد – استادان، ملګری – ملګري، کوټه – کوټې او نور... چې له آرو لغتونو سره د مورفیمونو زیادښت یوازې یوګړې کلمې په ډېرګړو اړولې دي، خو ګرامري ډلګۍ ته یې بدلون نه دی ورکړی. بل لور ته غیرختنا تاړي هغو ګړونو ته ویل کېږي چې د لغتونو له ریښې سره د نښلون په صورت کې د یادو لغتونو د مانا ترڅنګ په ګرامري ډلګۍ کې هم بدلون رامنځته کوي. لکه: استاد – استادي، ملګری – ملګرتیا، کوټه – کوټوال او نور... دلته د آرو لغتونو له ریښې سره د یوه تاړي زیادښت د کلمې په مانا او ګرامري ډلګۍ دواړو کې بدلون راوستی دی.
(Orlando et al, 2017, pp. 1-6).

## پایله

د څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسېږو چې د پښتو لغتونو له جوړښت ځخه پوهاوی نه یوازې دا چې په ژبزده کړه کې مرسته کوي، بلکې په خپله د لغتونو په شننه، پېژندنه، کارونه او کره مانا اخیستنه کې هم رغنده نقش لوبوي. د څېړنې په ترڅ کې مو دا هم وموندله چې په وییز جوړښت کې د تاړو له ډلې ځخه مختاړي ټل پیلني خو د وروستاړو په برخه کې که دوه یا څو پرله پسې تاړي راغلي وي

لومړی تاړی یې پیلنی او وروسته تاړي دویمی او وروستی ګڼل کېږي. د دې څېړنیزې مقالې په پای کې مو دا پایله هم ترلاسه کړه چې د وییز جوړښت د وروستاړو په برخه کې کوم تاړي په کومو نورو پسې راتلی او کوم تاړي له کومو نورو څخه دمخه راتلی نشي. په دې مانا چې کوم تاړي باید په وییزې ریښې پسې متصل او په دوام کې یې کوم وروستاړی یا وروستاړي راوړل شي. د څېړنې له نورو ښکنزنو لاسته راوړنو څخه د ګړ پوهنې، ګړ، د ګړونو د ډولونو، صرفي تاړي، اشتقاقي تاړي، ډلګۍ بدلوونکي او ډلګۍ نه بدلوونکي مورفیمونه، د ګړونو ځای پرځاینې، کارونې او همدارنګه د ګړونو متصلوالی او بېلوالی نور هغه موضوعات ول چې د څېړنې په بهیر کې پرې بحث او خبرې وشوې. په ټوله کې ویلی شو د تاړو پېژندل او په لغوي جوړښت کې په خپل ټاکلي ځای کارول له ویونکو، اورېدونکو او د ژبې له زده کوونکو سره د وییونو په سمه کارونه، اداینه، مانا، شننه او په ټولیزه توګه ژبزده کړه کې رغنده مرسته او لارښوونه کوي. تاړي او د تاړو پېژندل د ژبې او ژبپوهنې له زده کوونکو او ځانګوالو سره د وییونو په پېژندنه، ترکیبونه، وېشنه او شننه کې مرسته کوي.

**اخځلیکونه**

ڇمتو، م. ق. (۱۳۹۸). تشرېحي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

خوېشکی، م. ص. (۱۳۹۷). پښتو معاصر ګرامر. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

ځولیزی، م. ع. (۱۳۹۹). عمومي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

زیار، م. ا. (۱۳۸۴). پښتو پښویه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

شېرزاد، م. آ. (۱۳۹۹). پښتو ګرامر مورفولوژي. کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

Angrayni, M. (2019). Students' Difficulties in Using Affixation (A Study In English Education Department Of UIN Ar-Raniry). [Doctoral dissertation, UIN Ar-Raniry Banda Aceh]. https://repository.ar-raniry.ac.id/id/eprint/8888/

Aronoff, M., & Fudeman, K. (2011). What is Morphology? (2nd ed.). Wiley-Blackwell. https://www.wiley.com/en-in/What+is+Morphology%3F%2C+2nd+Edition-p-9781444351767

Cook, M. J., (2016). How does learning about affixes (prefixes and suffixes) help English Language Learners (ELLS) understand the meaning and use of affixes? [Doctoral dissertation, Hamline University]. https://digitalcommons.hamline.edu/hse_all/4173

Bhatti, M. S., Iqbal, A., & Javed, Z. (2016). Improving vocabulary through affixes at secondary level. International E-Journal of Advances in Social Sciences, 2(6), 728-732. http://ijasos.ocerintjournals.org/en/download/article-file/261820

Gordon, P. (1985). Level-ordering in lexical development. Cognition, 21(2), 73–93. https://doi.org/10.1016/0010-0277(85)90046-0

Gubair, D. M., & Ibrahim, R. O. (2019). Investigating the Role of Affixation in Learning and Understanding English Lexis. International Journal of Science and Research, 8(2), 2200-2206. https://paper.researchbib.com/view/paper/293810

Hamans, C. (2017). Language change and morphological processes. Yearbook of Poznan Linguistic Meeting, 3(1), 1–23. https://doi.org/10.1515/yplm-2017-0001

Orlando, B. A., Raivoso, D. J., & Adamo, X. A. (2017). Lexical Phonology and Morphology model Lexical Strata. [Doctoral dissertation, Pedagogical University of Maputo]

Pradita, I., & Sadiq, N. (2016). DEVELOPING STUDENT VOCABULARY WORKSHEET BY USING AFFIXES. Ahmad Dahlan Journal of English Studies, 3(1). Universitas Ahmad Dahlan. https://doi.org/10.26555/adjes.v3i1.3621

Silviana, E. (2020). A Study On Students' Ability Of English Affixes At The Fifth Semester Of English Language Education Of FKIP UIR. [Doctoral dissertation, Universitas Islam Riau]. https://repository.uir.ac.id/17324/

Kristel, V. G. (2020). Affixation in Morphology. In Oxford Research Encyclopedia of Linguistics. Oxford University Press. https://doi.org/10.1093/acrefore/9780199384655.013.678

Zarei, A. A., Mousavi, S., & Hasani, M. T. (2014). The effect of the number of affixes on vocabulary learning of Iranian intermediate EFL students. International Journal of Language Learning and Applied Linguistics World. https://www.irangn.ir/article_view.php?rahgiri=414837658732342